


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

د مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغاني » لیکنه

د نشر نیټه: اول دسامبر 2023 میلادی

# د تصوف اسرار !

د تصوف او سلوک په لیاره کی د صوفی اسرار زښت زیات دي چی په خپله صوفی وربانده پوهیږي چی دا اسرار په څه رنګه تبارز کوي او په څه شانی تیریږي ؟

وایی حتی صوفی هم اکثر نه پوهیږي چی پوره کم او کیف یی څومره او څنګه دي ؟
او یا د ده ژبه پوره نه شی تعبیر ولی چی په څه الفاظویی اداء او توضیح کړي؟

همدا وجه ده چی په داسی حالاتو کی کله صوفی ډیره موده په لوږه کی پاتی کیږي، د لوږی څخه خوند او لذت اخلی او لوږه وربانده منفی تاثیر نه شی اچولی .

صوفی کله ډیره موده بیداره وي او بیداري د ده د کمزورتیا موجب نه ، بلکی د ده د کمال وسیله ګرځي او کله ډیره موده په صوفی باندی داسی خیال کیږي چی د ده فکر ظاهري شیانو ته نه رسیږي، نو یا ساده او یا په ډیرو مهمو افکارو کی د ده فکر مشغول دی .
کله ځینی صوفیان غیبي شیان وایی ځکه چی د حواسو او عقل نوریی د ظلمت او تاریکي پردی محوه کړي وي .

کله د ځینی صوفیانو څخه د تصوف د نورپه برکت کرامات صادریږي ، په کف او چف یی ناجوړان جوړیږي ، په یوه دعای عالمونه کله نجات مومی او کله تباه او غرقیږي او کله ورڅخه داسی څه ښکاره کیږي چی د عامو خلکو د منلو وړنه وي ، په خوب کی ورته حقایق کشفیږي او په ظاهره کی د ده د فیض او برکت نښی او نښانی لیدل کیږي.

باید په یاد و لرو چی دا ټول د الله « ج » د وجود د ثبوت په صورت کی اسانه او عادی شیان دي ځکه هغه چی د دی ټولو کایناتو او جهان خاکه او هستوی مواد یی خلق او پیدا کړي دي هغه کوی شی چی خپل مخلص بندګان داسی مرتبی ته و رسوی کوم چی عادی کسان ورته د تعجب په نظر وګوري او د دوی په هرڅه کی د لوی قدرت نښی اونښانی او داسی تاثیر وي کوم چی د بشر د عادی ذهنیت د مستوی څخه اوچت ښکاره شي .

حقیقت دادی چی موږ تولی نیمگرتیاوی زمونږ د مادی توان د نقصان په وجه دی نو که زموږ د توان نقصان له مینځه لاړ شي د کمال او فیضان په صورت کی هر څه چی و غواړو کوی شو او هرڅه ته چی متوجه شو اسانیږی.
نو په دی اساس باید د نیکمړتیا وو اصلی منا شیو، منابعو او عواملو ته پوره متوجه اوسو تر څو و کړی شو چی څه باید وکړو ؟

وایی :
د عارف ټول موفقیتونه حقیقت او واقعیت دي خو وړاندی او په خاص ډول د اول پیدایش څخه ړوند څه لیدی نه شي او په دی نه پو هیږي چی لیدل یعنی څه ؟

کوڼ او په خاص ډول د اول څخه کوڼ څه نشی او ریدئی او په دی نه پوهیږی چی اوریدل یعنی څه ؟

نا پوه خلک چی خپله ناپوهي هم ورته پوهنه ښکاري هغوی په دی نه پوهیږي چه عقل باندی څه وکړي ؟

نو که چیری ړانده ، کانه او ناپوه کسان د معرفت د اسرار و څخه انکارو کړي دا د دوی څخه د امیدواری له اندازی څخه پورته کار نه دی او باید همداسی وي خو هغه چی سترگی او دلیدو قوه ولري .

هغه چی غوږ ونه او داوریدو قوه و لري او هغه چی عقل او تعقل ولري او په دی چم پوه شي چی د عقل څخه څنگه استفاده و کړي هغه کوی شي چی په ډیرو پټو رازونو پو ، حتی حدث او تخمین یی هم د حق په لیاری کی موثر رول ولوبوي .

***

مولانا داکتر سعید افغاني

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی»

www.said-afghani.org - بازگشت به صفحه اصلی